# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۳۱مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۱مه | ۵۷۱یمه گڼه


# ملي دسترخوان او د فساد وېره؛

## ولسي جرگه: پروگرام غیر شفاف دی، فساد پکې کېږي او له ملت سره ستره جفا ده



۳

ملي دسترخوان؛ ولس تېر ایستل که د جیبونو ډکول؟
۲ مخ

افغانستان؛ بې اجنډا گوندونه او بې گوندونو ولسواکي
۲ مخ

د روان کال په دویمه نیمايي کې به د چین بهرنی سوداگري بیافعاله شي
۳ مخ

## جاوید قایم: د چین له بېلابېلو پوهنتونونو سږ کال ۱۰۶ افغان محصلین فارغېږي

په چین کې افغان سفیر جاوید قایم وایي، چې د کرونا ناروغۍ له خپرېدو سره سره، سږ کال هم د دغه هېواد له بېلابېلو پوهنتونونو ۱۰۶ افغان محصلین د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس په کچه فارغېږي.

جاوید قایم وایي، ټاکل شوې وه چې د دغو محصلینو لپاره د سفارت په انگړ کې ځانگړې د مخې ښې مراسم جوړ شي، خو له کرونا ناروغۍ څخه د مخنیوي په موخه یې یوازې له هغه محصلینو سره کتلي، چې په بیجېنگ کې یې زده کړې کړې دي.

په ورته وخت کې په چین کې د حبیب گل ځدراڼ په نوم یو محصل په خپل پوهنتون کې د سږ کال د غوره محصل لقب هم خپل کړی دی.

د یادونې ده چې چین هر کال ډېرو افغانانو ته په دغه هېواد کې د لوړو زده کړو زمینه برابروي، څو د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې وکړي. د یاد هېواد په پوهنتونونو کې افغان محصلین هم وایي، چې چین د نورو هېوادونو د محصلینو په څېر دوی ته هم د زده کړې لپاره ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې او په ډاډه زړه خپلې زده کړې پر مخ وړي.


## د بشري حقونو کمېسیون: حکومت دې ژر تر ژره پر کونړ د پاکستان د توغندیزو بریدونو مخه ونیسي



۵ مخ


ځېره
۴ مخ


## ویلیم جیمز ډورانټ



ویلیم ډورانټ د نړۍ له مشهورو تاریخ لیکونکو یو دی. د هغه مشهور کتاب «د تمدن تاریخ» نومېږي چې لسگونو ژبو ته ژباړلی شوی. هغه وایي، د بشر له ۳۴۲۱ کلن تاریخ یوازې ۲۶۸ یې په جنگ کې نه دي تېر شوي، نور انسان ټول وخت جنگ کړی.

## کرنې وزارت: په فاریاب کې نږدې دوو زرو مېرمنو ته کاري فرصتونه برابر شوي دي



کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، په فاریاب کې یې نږدې دوو زره مېرمنو ته کاري فرصتونه برابر کړي دي.
د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې دغه کاري فرصتونه د بڼوالۍ او مالدارۍ پروگرام له لوري برابر شوي دي.
نوموړي دغه راز زیاته کړې چې دغه مېرمنې تر دې وړاندې وزگاره او له ګڼو اقتصادي ستونزو سره لاس او گرېوان وې.
د کرنې وزارت چارواکي وايي، چې دغه مېرمنې اوسمهال د سبزیو او مېوو د پروسس په برخه کې پر کار بوختې دي.
د یادونې ده چې د کرنې او مالدارۍ وزارت دغه پروژه په ۲۰۱٤ میلادي کال کې پیل کړې او له دې لارې یې نږدې ٦ زرو مېرمنو ته د کار زمینه برابره کړې او دوی اوس له دې لارې کولای شي چې د خپلې کورنۍ اقتصادي اړتیاوې پوره کړي.

## وزارت صحت عامه: ٦٦ درصد از بیماران ویروس کرونا دوباره بهبود یافته اند




وزارت صحت عامه، از بهبود ٦٦ درصد بیماران ویروس کرونا در کشور خبر داده و می گوید که بیش ۲۳ هزار تن که با مریضان (کوید-۱۹) در تماس بودند، ردیابی شده اند که از این میان، نتایج آزمایش کرونای بیش از چهارهزار تن مثبت تشخیص شده است.
اکمل سمسور، سخنگوی وزارت صحت عامه که دیروز در یک نشست خبری در کابل صحبت می کرد، گفت که تاکنون ۲۳۱۸۴ تنی که با بیماران ویروس کرونا در تماس بوده، ردیابی شده اند.
وی گفت، از مجموع کسانی که با مریضان کوید – ۱۹ در تماس بودند و ردیابی شده اند، به تعداد ۴۴۹۳ شان به این مرض مبتلا شده اند.
موصوف می گوید که تیم های مراقبت و نظارت از ویروس کرونا این وزارت، تمامی افرادی را که با بیماران ویروس کرونا برای مدت ۱۰ تا ۱۵ دقیقه در تماس بوده اند را ردیابی می کنند.
سمسور، با بیان این که این مرض ۸۵ درصد از طریق افرادی که با بیماران ویروس کرونا مصاب اند، منتقل می شود، گفت: «ویروس کرونا از طریق افرادی که هیچ نوع اعراض و علایم ندارند، ۱۰ درصد و از طریق محیط پنج درصد به انسان های دیگر سرایت می کند.»
سخنگوی وزارت صحت عامه، علاوه کرد که در هفته های اخیر مراجعه افراد مشکوک به کرونا به شفاخانه ها تجرید کوید – ۱۹ ، کاهش یافته است.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

# ملي دسترخوان؛ ولس تېر ایستل که د جیبونو ډکول؟

ولسي جرګې تازه د حکومت د ملي دسترخوان پر پروګرام نیوکې کړې دي. په ولسي جرګه کې ګڼو وکیلانو ویلي چې د ملي دسترخوان تر نامه لاندې دې د لسګونو میلیونه ډالرو په ارزښت دغه پروژه ودرول شي؛ ځکه شفافه نه ده او د پراخ فساد شونتیا پکې شته ده. ځینې وکیلانو بیا ان دا هم وویل چې په حکومت کې د ځینو ځانګړو کړیو له لوري دغه ډول پروژې طرحه کېږي، څو فساد پکې وکړي او پیسې شخصي جیبونو ته لاړې شي.

د ۲۰۲۰ز کال له لومړیو درېیو میاشتو وروسته بیا تر دې دمه په حکومت کې د پراخ فساد د موجودیت په اړه ګڼ راپورونه خپاره شوي دي. د دغو راپورونو په لړ کې تر ټولو باوري او معتبر یې د ملګرو ملتونو و. دغه سازمان په خپل راپور کې ویلي وو چې افغان حکومت په پراخ اداري فساد کې ښکېل دی او همدا راز د مفسدو کړیو او کسانو پر وړاندې یې اقدام هم دومره د پام وړ نه دی. ملګرو ملتونو دغه راز د فساد پر وړاندې رامنځ ته شوې اداري هم کمزورې بللې دي او په خبره یې، کارونه یې اغېزناک نه دي او باید حکومت پر خپلو پلانونو له سره فکر وکړي.

سیګار او په افغانستان کې د شفافیت د څار بنسټ، دغه راز خبري اژانسونو او رسنیو هم په افغان حکومت کې د پراخ فساد په اړه راپورونه خپاره کړي دي. دغه فساد بیا تر دې وروسته لا پسې پراخ شو، چې په هېواد کې د کرونا وبا ګډه شوه، بحران رامنځ ته شو، میلیونونه ډالره مرستې وشوې او فرصت غوښتونکو کسانو په فساد لاس پورې کړ. له دارو درمل نیولې تر طبي تجهیزاتو هر څه کې فساد وشو. تر ټولو بوږنوونکی او حیرانوونکی فساد د حکومت په هغه پروګرام کې شوی و، چې له مخې یې عامو خلکو ته وچه ډوډۍ وېشل کېده. په دې تړاو رسنیو راپورونه خپاره کړل، نیوکې وشوې خو حکومت یې په اړه اقدام نه دی کړی.

اوس د ملي دسترخوان پروګرام په اړه هم دغه ډول اندېښنې را ولاړې شوې دي. ولس ملامت نه دی، پارلمان ملامت نه دی، د فساد د تېرو ادعاوو په اړه هېڅ راز وضاحت نه دی ورکړل شوی او ټول په دې شک کوي چې ګواکې حکومت په لوی لاس د ځان لپاره د فساد او حیف میل زمینه برابروي. د ملي دسترخوان لپاره په میلیونونو ډالرو ځانګړو شوو پیسو ګڼ مهم او بنسټیز کارونه کېدلی شي، خو حکومت یې په ملي دسترخوان لګوي. بیا چې کرونا مخ په ختمېدو ده، تاسې یې د کنټرول ادعا کوئ، نو د ملي دسترخوان پروګرام ته اړتیا څه ده؟

حکومت ته په کار ده چې نور دې پر مظلوم ملت ظلم نه کوي. د ولس له تېر اېستلو دې تېر شي، دغه ډول باغونه دې ملت ته نه شنه کوي، چې ظاهر یې ښکلیږ خو د ننه پکې وچې ونې او سپېره ډاګونه وي. ښه به وي چې حکومت پر خپلو کړنو بیاکتنه وکړي او په دې توګه د ولس باور نور هم زیانمن نه کړي.

# افغانستان؛ بې اجنډا ګوندونه او بې ګوندونو ولسواکي

لیکنه: حفیظ همیم- کوبها ډیالوګ

وروستۍ برخه:

سیاسي ګوندونه او فساد

هغه هېوادونه چې ولسواکي نه لري، خلکو ته پکې په دولت کې د ګډون فرصتونه محدود وي. یو شخص ښایي لسیزې د یوه واکمن په توګه پر دنده پاتې شي؛ خو د ولسواکۍ ګټه دا ده چې په دوراني ډول خلک پکې واک ته رسېږي. د بېلګې په ډول، په اکثره ولسواکیو کې د ولسمشرۍ موده پنځه کاله وي او یو شخص پکې یوازې دوه ځله ولسمشر کېدای شي. دغه ډول قیدونه نورو خلکو او ګوندونو ته فرصت برابروي چې هغوی هم واک ته ورسېږي او د هېواد لپاره د مشر او یا بل هر مامور په توګه خدمت وکړي. خو د افغانستان غوندې ولسواکیو کې چې ګوندونه پکې ښه فعال نه وي او یا یې ولسواکي شبه ډیموکراسي بللای شو، واک ته د رسېدلو او پر لوړو څوکیو د کار کولو فرصتونه ټولو خلکو ته مساوي نه رسېږي. په دې کې ګوندونه ډېر مهم رول لري.

هغه هېوادونه چې ګوندونه پکې د افغانستان په څېر په حاشیه کې وي، د دولت او حکومت لوړو څوکیو ته رسېدل پکې ډېر وخت د استعداد په مرسته نه؛ بلکې د قدرت له شبکو سره د اړیکو په مرسته وي. بده لا دا ده چې د پیسو په مرسته مقام ته رسېدل پکې معمول وي. په افغانستان کې ډېرې هغه څوکۍ چې عاید لري او فساد پکې کېدای شي، د فساد د شبکو په مرسته پلورل کېږي، له همدې کبله بې پیسې خلک په ښو دندو نه شي ګومارل کېدای. خو که احزاب پیاوړي شي، نو دوه کاره ممکن دي. یو دا چې مقام ته د رسېدو لپاره به وړتیا معیار شي او دا ځکه چې ګوند اوږدمهاله پلانونه او ستراتېژۍ لري او دغه پلانونه یوازې د هغو خلکو په مرسته تعقیبېدای شي چې وړتیا ولري. دویم دا چې ګوندونه د فساد په مخنیوي کې هم مرسته کولای شي. د نورو هېوادونو تجربې ښیي چې که واکمن ګوند یو ځل فساد وکړي، نو بیا تر ډېرې مودې پورې خلک ورته رایه نه ورکوي چې واک ته ورسېږي او له همدې وېرې فساد نه کوي. په افغانستان کې چې ګوندونه غیرفعال او یا په سیاست کې ښه ښکېل نه دي، له همدې کبله افراد د افرادو په څېر په دندو ګومارل کېږي او د راتلونکي په اړه له اندېښنې پرته فساد کوي. دوی فکر کوي چې دا یو ځل فرصت په لاس ورغلی دی، نو بیا هومره فساد وکړي چې بیا واک ته رسېدو ته اړ نه وي. بله دا چې عام تصور دا دی چې دلته مقامونه په پیسو اخیستل کېږي، له همدې کبله هم ځینې خلک فساد کوي چې راتلونکي یې هم تضمین شي.

حکومتي پالیسۍ او ګوندونه

سیاسي ګوندونه په ټوله نړۍ کې د حکومت پر پالیسیو او د هغو د تطبیق پر میکانیزمونو باندې اغېزه لري. دوی د خلکو له ملاتړ څخه په استفادې پر حکومت او نورو سیاسي-اقتصادي لوبغاړو فشار راوړي چې خپلې پالیسۍ تغییر کړي.

د ۲۰۱۴ کال په اکتوبر کې د کولین ګروپ په نوم د شرکتونو یوې ټولګې د ترکیې د منیسا سیمې په ییرکا کلي کې د زیتون ٦٦٦٦ ونې د دې لپاره غوځې کړې، چې هلته د ډبرو له سکرو څخه د برېښنا د تولید یوه فابریکه جوړه کړي. دغه شرکت د ځمکې د مصادره کولو په اړه د ترکیې د کابینې له یوې بېړنۍ پرېکړې سملاسي وروسته ونې غوځې کړې، خو د ترکیې ایالتي شورا (Danıştay) د کارخانې د جوړولو دغه پرېکړه لغو اعلان کړه. شورا د ترکیې د کابینې غه پرېکړه له هغه وروسته لغو کړه چې د چاپېریال ساتنې د یوې نړیوالې ادارې (Greenpeace) په مشرۍ او لارښوونه د ترکیې د چاپېریال ساتنې فعالانو خلک منظم او د دغه کارخانې د جوړېدو پر ضد اعتراض ته وهڅول. ایالتي شورا ویلي وو چې د کارخانې د بندېدو حکم د بیاکتنې وړ نه دی او د زیتونو په ځنګله کې د برېښنا تولید د کارخانې له جوړولو سره عام خلک لېوالتیا نه لري.

دغه ډول خورا ډېرې بېلګې شته چې حکومتونه د خلکو د فشار له کبله له خپلو پرېکړو شاته شوي او یا یې پر خپلو پالیسیو له سره غور کړی دی. دې ټکي ته په کتو سره حکومتونه د خپلو پرېکړو د تطبیق لپاره د خلکو ملاتړ ته ضرورت لري. په همدې ترکیه کې یوه بله غټه پروژه د استانبول-ازمیر لویه لاره وه چې په ورته ډول ورته زرګونه ونې غوځې شوې، خو عامو خلکو یې په اړه اعتراضونه ونه کړل او لامل یې دا بلل کېده چې سیاسي ګوندونو او نورو ډلو د دغې پروژې په تطبیق کې له حکومت سره همغږي لرله.

پر کارونو او پالیسۍ باندې کیوین مولینیکس په یوه سروې کې موندلې چې کله خلک پوه شي چې د دوی ګوند د هغه یا دغه قانون ملاتړ کوي، نو د دې مانا دا ده چې خلک د هغه قانون په ملاتړ غبرګ پورته کوي، رایه ورکوي او یا یې تر شا درېږي. که څه هم دا کار مطلق نه دی یاني کله چې مسئله په شخصي ډول د یو چا لپاره مهمه وي، بیا هغه د ګوند په خوله یا په پټو سترګو له هغې مسئلې سره چلند نه کوي چې یې یا ملاتړ وکړي او یا یې هم رد کړي.

خو په افغانستان کې د ګوندونو بد وضعیت د دې لامل شوی چې د حکومت پر پالیسیو د څار توان ونه لري او خلک د حکومت د پالیسیو پر ضد او یا د هغو د تغییر لپاره منسجم نه شي کړای. د خلکو له ملاتړ څخه بې برخې ګوندونه کله کله حتی د حکومت له لوري اړ ایستل کېږي چې د حکومت د پالیسیو ملاتړ وکړي او تر دې بده دا چې داسې ادعاوې هم شته، چې د نورو نړۍ پر خلاف د افغانستان حکومت پر سیاسي ګوندونو فشار راوړي، څو د حکومت پالیسۍ نقد نه کړي او یا یې پر خلاف غبرګ پورته نه کړي.

د ۲۰۱۸ کال په جولای کې ځینو ګوندونو له حکومت څخه وغوښتل چې د ټاکنو لپاره د نوملیکنې بهیر باید باطل کړي، ځکه د دوی په خبره روڼ نه دی. خو د ګوندونو تر غوښتنې یوازې یوه ورځ وروسته د جولای په ۱۵مه ولسمشر غني په وینا کې پر ګوندونو توندې نیوکې وکړې او حتی د ګوندونو ځای ځایګی یې وننګاوه. هغه وویل: «دا سیاستوال څوک دي چې د خلکو په استازیتوب غږېږي؟ چا دوی ټاکلي دي او دا صلاحیت یې ورکړی دی چې د خلکو استازیتوب وکړي؟»

د ولسمشر غني د دې خبرو مانا دا ده چې هغه تر اوسه پورې یا ګوندونه په رسمیت نه پېژني او یا ورته ارزښت نه لري. په دغسې یوه وضعیت کې نه ګوندونه کولای شي چې وده وکړي او یا هم د حکومت پر پالیسیو څارنه وکړي او نه هم حکومت کولای شي چې د خپلو پالیسیو لپاره د خلکو واقعي ملاتړ راجلب کړي.

د ګوندونو په دغسې وضعیت کې حکومت په خلاص مټ هغه پالیسۍ عملي کوي چې یوازې د حکومت په ګټه وي.

سیاسي معادلې او ګوندونه

لکه مخکې مو چې وویل، په افغانستان کې ګوندونو ته د ګوندونو په حیث په حکومت کې لږ او د ګوندونو غړو ته د افرادو په حیث ډېر امتیازات ورکول کېږي. دې کار له یوې خوا پر ګوندي مبارزې عامه باور خراب کړی او هر څوک فکر کوي چې باید انفرادي مبارزه وکړي چې یوه ځای ته ورسېږي او له بلې خوا یې حکومت ته له ګوندونو سره معامله اسانه کړې ده. عمومي باور دا دی چې هر ګوند تر هغه پورې منتقد وي چې مشر یې په دولت کې دننه پر یوه دنده ګومارل کېږي او تر دې ګومارنې وروسته ګوند د دولت په ملاتړې بدلېږي. د ګوندونو د تطمیع سیاست دې ته لاره هواره کړې ده چې ګوندونه له سیاسي معادلو څخه لرې پاتې شي. د افغانستان ګوندونه له شک پرته د ټاکنو پر پایلو اغېزه لري، خو دغه اغېزه یې تر ګوندي ایډیالوژۍ ډېره د قومي-مذهبي تمایلاتو زېږنده ده. په نورو لویو سیاسي معاملو کې ګوندونه ډېر نه پوښتل کېږي، یا دا توان یې په ځان کې نه دی را ټوکولی. له همدې کبله سیاسي احزابو د سولې په برخه کې له حکومت سره موازي هڅې پیل کړې. د همدې هڅو په لړ کې د افغانستان د سیاسي احزابو ځینو مشرانو او سیاسیونو د ۲۰۱۸ کال د فبروري په ۵مه په مسکو کې له طالبانو سره وکتل او د جګړې پر ختمېدو او د سولې پر ټینګښت یې خبرې وکړې. د ۲۰۱۹ کال د مې په ۲۸مه او ۲۹مه یو ځل بیا افغان سیاسیونو او د احزابو مشرانو د افغانستان او روسیې د ډیپلوماتیکو اړیکو د سل کلنۍ د نمانځنې په پار جوړه شوې غونډه کې له طالبانو سره وکتل.

د ۲۰۱۸ کال په نومبر کې اشرف غني د سولې لپاره نوې طرح اعلان کړه چې سیاسي احزابو دا طرح د ورکړل شویو وعدو خلاف وبلله. د دې طرحې له مخې له طالبانو سره د خبرو واک یوې ۱۲ کسیزې ډلې ته ورکړل شوی و، چې په سر کې یې د ولسمشر د دفتر پخوانی مشر او اوس د سولې په چارو کې د دولت وزیر عبدالسلام رحیمي او پاتې غړي یې حکومتي چارواکي وو. د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۲۷مه د سولې په چارو کې د دولت وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره اعلان وکړ، چې له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره ۲۱ کسیز پلاوی ټاکل شوی چې مشري یې د ملي امنیت پخوانی مشر او د ولسمشر اوسنی سلاکار معصوم ستانکزی کوي. د دغه پلاوي ځینې غړي هم دولتي چارواکي دي، له همدې کبله یې د ځینو احزابو نیوکې هم راوپارولې. سیاسي احزابو وویل چې له طالبانو سره مرکچي پلاوی ټولشموله نه دی او نه شي کولای چې له طالبانو سره خبرې مخته یوسي. دوی ادعا وکړه چې د دغه پلاوي په ترتیب او تشکیل کې له سیاسي ګوندونو سره سلا مشوره نه ده شوې. خو افغان دولت ټینګار کوي چې له طالبانو سره په خبرو کې یې د احزابو ونډې ته تل پام کړی. د سولې د خبرو د دغه پلاوي په اړه د حکومت دریځ دا دی چې دا پلاوی د دولت، ښځو، سیاسي ګوندونو، علماوو، ځوانانو او مدني ټولنې له استازو جوړ دی او د افغانانو په استازیتوب به له طالبانو سره خبرې کوي.

د اپوزیشن تشه

په سیاست کې نه موافقت ته اپوزیشن وایي. اپوزیشن په بېلابېلو هېوادونو او سیستمونو کې په بېلابېلو ډولونو موجود وي.

په عام ډول د خلکو یو ګروپ یا یوه سیاسي ډله چې په ګڼ ګوندیز سیستم کې فعالیت کوي او په دوامداره ډول د حکومت او واکمن ګوند پالیسۍ نقدوي او یا یې مخالفت کوي، اپوزیشن دی.

په سیاست کې اپوزیشن له یوه یا څو ګوندونو او یا غیرګوندي منظمو ډلو څخه جوړ وي چې د حکومت د پالیسیو مخالفت کوي. په دې مانا چې یو ګوند یا یوه ډله د بلې مخالفت کوي. په اکثرو مسایلو کې اپوزیشن له هغه څه سره موافق نه وي چې حکومت یې کوي.

افغانستان په لیبراله ډیموکراسۍ ولاړ سیاسي سیستم لري. د افغانستان اساسي او نور فرعي قوانین د دغه سیستم د یوې برخې په توګه د ګوندونو ازادي تضمینوي. خو له دې سره سره لا هم ګوندونه په عملي ډول په هغه حالت کې نه دي چې د ګوند له ادرسه حکومت ته ورسېږي او یا د ګوند له ادرسه له حکومته د باندې د اپوزیشن په توګه فعالیت وکړي.

په تېرو اتلسو کلونو کې د ګوندونو له ازادۍ سره سره پر ګوندونو باور جوړ نه شو او په سیاست کې لا هم هغسې ونډه نه لري چې باید لرلای یې. په دې کې څو عوامل ونډه لري. لومړی دا چې ګوندونو سمه او منظمه وده نه ده کړې. د افغانستان په ټولنه کې د هغو خلکو کمی نشته چې پر سیاست فکر کوي او یا سیاست خوند ورکوي؛ خو په ګوندونو کې د غړیتوب سلنه ډېره لږه ده. په ګوندونو باندې د تېرو څو لسیزو جګړو له کبله د جوړ شوي تصویر سیوری لا پروت دی او په تېرو اتلسو کلونو کې نه دي توانېدلي چې په خلکو کې ریښې وغځوي. له همدې کبله کمزوري پاتې دي او نه شي کولای چې د حکومت پر ضد اپوزیسیون رامنځته کړي. اپوزیسیون ته معمولاً د بدیل په سترګه کتل کېږي؛ خو کله چې په افغانستان کې خلک موجود حکومت او موجود سیاسي ګوندونه سره پرتله کوي، نو باور دا دی چې که څه هم حکومت ستونزې او نیمګړتیاوې لري، خو شته ګوندونه یا ځینې وخت شته اپوزیسیون یې بدیل کېدای نه شي.

دویمه خبره دا ده چې دلته ګوندونه د اپوزیسیون له سیاستوالۍ سره نابلده دي. دوی د اوږدې مبارزې حوصله نه لري او له همدې کبله غواړي چې ژر تر ژره واک ته ورسېږي، خو واک ته د دوی رسېدل د ګوند په توګه نه؛ بلکې د افرادو په ډول وي.

د ګوندونو له دې ګډوډۍ څخه حکومت هم استفاده کوي او نه پرېږدي چې پر وړاندې یې قوي اپوزیسیون جوړ شي. حکومت په سیاسي ګوندونو کې د سر خلک په دندو ګوماري او د سیاسي رشوت او تطمیع سیاست له لارې ټول ګوند خاموش او د حکومت د پالیسیو په مقابل کې د نیوکې توان وبایلي. په ګوندونو کې د ننه هم دغسې ګمارنو ته د حق السکوت په سترګه کتل کېږي. دې او دې ته ورته ځینې نور لوی او واړه عوامل شته چې په افغانستان کې تر اوسه پورې د حکومتونو په مقابل کې قوي اپوزیشن نه دی رامنځته شوی.

پایله

ګوندونه باید تر هر څه مخکې خپل داخلي جوړښت ته پام واړوي او په ګوندونو کې دننه اصلاحات راولي چې په دې کې د انتخاب، رهبرۍ، جنیست اړوند مسایلو او نورو میکانیزمونو رامنځته کول شامل دي. په دویمه درجه کې ګوندونه باید د افغانستان د راتلونکي لپاره منظمې تګلارې او پالیسۍ ولري او د هغو د تطبیق لپاره بشري قوه، تخنیکي پوهه، عملي کېدونکې ستراتیژۍ او قوي اراده ولري. درېیم دا چې ګوندونه باید ملت شموله شي، د اپوزیسیون په توګه د سیاست کولو وړتیا ولري او په دې برخه کې خپل ظرفیتونه پیاوړي کړي چې د حکومت پر پالیسیو د نقد جوګه شي او د خلکو په ملاتړ یې د اړتیا پر مهال بدلې کړای شي.

پای



# د روان کال په دویمه نیمایي کې به د چین بهرنۍ سوداګري بیافعاله شي

لیکنه: هیله؛
د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګې خبریاله

د چین د ګمرکاتو عمومي اداري څو ورځې مخکې یوه شمېره خپره کړه چې له مخې یې د روان کال په لومړۍ نیمایي کې د چین د وارداتو او صادراتو ارزښت د تېر کال د همدې مودې په نسبت ۳،۲ سلنه ټیټ شوی، خو دغه ټیټوالی د لومړۍ ربعې په پرتله ۳،۳ سلنه کم دی او په تېر جون میاشت کې وارداتي او صادراتي ارزښت زیاتوالی موندلی دی. د اقتصاد او سوداګرۍ د کارپوهانو په اند، د روان کال په دویمه نیمایي کې به د چین بهرنۍ سوداګري بیا فعاله شي، خو بیا هم چین باید بیدار واوسي او له اړوندو ننګونو سره د مقابلې لپاره دې سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ پیاوړې کړي.

د چین د نړیوالې اقتصادي تبادلې مرکز مرستیال لوی اقتصادپوه جانګ یونګ جون وایي، چې د روان کال په لومړۍ نیمایي کې په تېره بیا په تېره جون میاشت کې د چین د بهرنۍ سوداګرۍ شمېر ښیي، چې د چین اقتصاد له ننګونو سره د مقابلې پیاوړې توان لري او دا په چین کې د صنعتي چارو له بشپړ سیستم سره تړاو لري. هغه زیاتوي: «د کووید-۱۹ ویروس له رامنځته کېدو راهیسې، د دغه ویروس د وقایې په اړه د تنفس ماشین په ګډون د ځینو طبي تجهیزاتو صادرات ډېر زیات شوي، له دې څخه ښکاري چې د چین د صنعتي چارو سیستم بشپړ دی، موږ پر اقتصاد د دغه ویروس د اغېزې له مخې خپلې چارې تنظیمولای شو او د نړیوالو اړتیاوو له مخې د اړوندو توکو تولیدي توان پیاوړی کولای شوو.»

د ښاغلي جانګ یونګ جون په اند، چین باید په درېیمه ربعه کې د صادراتي حالت په اړه بیدار واوسي. د چین د نړیوالې اقتصادي تبادلې مرکز لویې اقتصادپوهې مېرمن چن ون لینګ وایي، سږ کال به د چین بهرنۍ سوداګري تر کمزورېدو وروسته بیااحیا شي، ځکه چې د چین بهرنۍ سوداګري ښه بنسټ لري. هغه زیاتوي: «لومړی: چین د توکو تجارت په برخه کې په نړۍ کې لومړی مقام لري او لا تر اوسه دا وړیا لري هم. دویم: چین په نړۍ کې د تجارتي مرکز په توګه د ګرځېدو په حال کې دی. درېیم: له ګاونډیو هېوادونو سره د چین سوداګریزې اړیکې مخ په نردې کېدو دي. څلورم: ډیجېټلي سوداګري په چین کې د ګړندي پرمختګ په حال کې ده. د روان کال په لومړیو ۴ میاشتو کې په چین کې د ډیجېټلي سوداګرۍ ارزښت د تېر کال د همدې مودې په نسبت ۴۰ سلنه زیات شوی. بلخوا د یو کمربند او یوې لارې په وړاندیز کې له ځینو ګډون کوونکو هېوادونو سره د چین د وارداتو او صادراتو ارزښت د دغه هېواد د وارداتو او صادراتو په عمومي شمېر کې ۳۰ سلنه نیسي، چې د زیاتوالي سرعت یې د نورو برخو په نسبت ډېر ګړندی دی. پر دې سربېره،، چین د څه باندې ۱۲۰ هېوادونو او سیمو لومړی لوی سوداګر هم دی.»

مېرمن چن ون لینګ وایي چې د روان کال په دویمه نیمایي کې د چین بهرنۍ سوداګري له ډېرو ننګونو سره مخ شوې او په اړه یې باید بیدار او اغېزناک تدبیرونه ونیول شي.

ښاغلي جانګ یونګ جون وړاندیز کړی چې چین باید د صادراتو د ثابت پرمختګ د ساتلو په عین وخت کې نړیوالې همکارۍ په تېره بیا سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ وهڅوي. هغه وایي: «اوسمهال د عرضې او تولید ځنځیر سیمه ییز کېدل یو تمایل دی، نو موږ باید له دې تمایل سره سم سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ وهڅوو او د دغو همکاریو د پیاوړتیا له لارې پر صادراتو د کووید-۱۹ ویروس منفي اغېزې کمې کړو.»

د څېړونکو په اند، اوس کووید-۱۹ وبا لا هم په نړۍ کې د ګړندي خپرېدو په حال کې ده، دا د چین په ګډون د ډېرو هېوادونو د بهرنۍ سوداګرۍ پر وړاندې یوه ګډه ننګونه ده. نو ټول هېوادونه باید د کووید-۱۹ ضد د مبارزې په برخه کې اغېزناک تدبیرونه ونیسي، د دغې وبا تر کنټرول وروسته به نړیوالې سوداګرۍ یې ګام په ګام بیا عادي شي.

# ملي دسترخوان او د فساد وېره؛

## ولسي جرګه: پروګرام غیر شفاف دی، فساد پکې کېږي او له ملت سره ستره جفا ده



د حکومت پر پروګرامونو د نیوکو پر دوام، تازه ولسي جرګې د ملي دسترخوان پر پروګرام نیوکه کړې او دغه پروګرام یې د فساد لپاره لار جوړول بللی دی.

د ولسي جرګې غړو د تېرې ورځې په غونډه کې وویل چې حکومت دې په دغه ډول له فساده ډکو کړنو د ولس پر برخلیک لوبې نه کوي او له ملت سره دې له دغه ډول ظلمونو لاس واخلي. ولسمشر غني څو ورځې وړاندې د ملي دسترخوان پروګرام پرانیست چې ویل یې په دې پروګرام کې به میلیونونو خلکو ته خوراکي توکي وویشي.

د روانې میاشتې په ۲۸مه افغان ولسمشر د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د ملي دسترخوان پروګرام پرانیست. دغه پروګرام دوه پړاوونه لري چې په هغه کې به د هېواد نوي سلنه وګړو ته د حکومت په خبره، لومړني خوراکي توکي وویشل شي. حکومت وایي چې د پروګرام په لومړي پړاو کې ۳۴ ولایتونه، ۱۲۳ ولسوالۍ، ۱۲۸۹۶ کلي چې په مجموع کې ۱.٦۷ میلیونه کورنۍ کېږي، شامل دي. د لومړي پړاو مجموعي لګښت ۸٦ میلیون ډالر کېږي چې اوړه، وریجې، غوړي، لوبیا، صابون او یو شمېر نور لومړني خوراکي او غیر خوراکي توکي پکې شامل دي. همدا راز دویم پړاو هم په ۳۴ ولایتونو کې تطبیقېږي چې ۲۳۵ ولسوالۍ، ۲۱۸۴۲ کلي او ۲.۵ میلیون کورنۍ به په کې شاملې وي او د دویم پړاو مجموعي لګښت ۱۵۸ میلیون ډالره دی.

اوس د ټولنیزو رسنیو د کاروونکو ترڅنګ د ولسي جرګې غړو هم د افغان حکومت له دغه پروګرام سره مخالفت څرګند کړی دی. د ولسي جرګې غړي وایي چې ملي دسترخوان پروګرام په لوی لاس فساد ته زمینه برابرول دي او حکومت ته په کار ده چې له ورته غیر شفافو اقداماتو او پروګرامونو لاس واخلي. د ولسي جرګې د غړو په خبره، حکومت په خپلسرې توګه د ملي شورا له مشورې پرته دغه ډول میلیونونه ډالر په غیر شفافو پروګرامونو لګوي چې د جدي اندېښنې وړ مسئله ده. د ولسي جرګې د مالي او بودیجې د کمېسیون مشر میر افغان ساپی وایي، حکومت باید دغه پروګرام ودروي. د ده په خبره: ((د افغانستان د ولسي جرګې مالیي او بودجې کمېسیون له دې پروګرام سره خپل مخالفت څرګندوي او ټول ملت ته په ډاګه کوي وایي، چې دا د افغان مظلوم ملت سره ستر جفا ده)).

د دغه کمېسیون مشر میر افغان ساپي همدا راز د افغانستان د مالیې له وزارت غوښتې چې له دغه پروګرام سره مالي همکاري و نه کړي. د ده په خبره، ولسي جرګه د اوړي رخصتۍ پیلوي او که حکومت د ملي شورا له مشورې پرته دغه پروګرام پلی کوي او پیلوي، د ملت په حق کې جفا ده، فساد به وشي او راتلونکې مسوولیت به یې هم د افغان حکومت پر غاړه وي. د ده په خبره: ((د افغانستان له مالیې وزارت په جدي ډول غوښتنه کوو چې له هر ډول جوړجاړي لاس واخلي او که هر اقدام کوي باید ولسي جرګه چې قانوني بنسټ دی، په جریان کې پرېږدي)).


د ولسي جرګې بل غړی علي اکبر جمشېدي بیا وایي چې حکومت په لوی لاس د فساد لپاره زمینې برابروي او دغه ډول غیر شفاف پروګرامونه په حقیقت کې فساد ته لارې جوړول دي. د ده په خبره: ((اداري فساد په حکومتي ادارو کې ډېرې ژورې ریښې کړې. کله چې د یوه پروګرام طرحه جوړېږي مخکې له دې چې هغه پروګرام پیل شي د فساد لپاره یې مخکې له مخکې طرحه جوړه شوې وي او عملي کېږي)).

افغان حکومت بیا وایي چې دوی دغه پروګرام پلی کوي او د افغانستان ولسي جرګه او مشرانو جرګه باید همکاري ورسره وکړي. د افغان حکومت د رسنیو د مرکز رییس لطیف محمود ویلي، دا په افغانستان کې د فقر د له منځه وړلو لپاره د افغان حکومت یو ملي پروګرام دی چې د ملي شورا غړي هم باید له دوی سره همکاري وکړي، څو پروګرام په سمه توګه عملي شي او د فساد مخه و نیول شي.

افغان حکومت داسې مهال د ملي دسترخوان پروګرام پیلوي چې تر دې وړاندې یې د وچې ډوډۍ پروګرام پیل کړی و او د دغه پروګرام په تړاو د فساد ګڼ شکایتونه موجود دي چې حکومت یې د څارنې او پلټنې په اړه څه نه دي ویلي.

# د کرونا چټکه پراختیا او واکسین؛

## پوهانو د اکسفورډ پوهنتون لخوا د کرونا ویروس ضد جوړ شوي واکسین پایلې بریالۍ بللي



د برېټانیا د اکسفورډ پوهنتون لخوا د کرونا ویروس پر ضد د جوړ شوي واکسین پایلې بریالۍ بلل شوي او کارپوهان وایي، دغه واکسین د وګړو د بدن دفاعي نظام د کرونا ویروس پر ضد روزلی شي.

دا په داسې حال کې ده چې اکسفورډ پوهنتون څو میاشتې وړاندې څه باندې زر کسانو ته دا واکسین په ازمېښتي ډول ور کړی و.

اوس د دې ازموینې پایلې ښیي چې د دغو کسانو په وینه کې اړینه انټي باډي او سپینې حجرې جوړې شوې چې د کرونا ویروس پر ضد جنګېدلی شي.

کارپوهان وایي، دا موندنې د کرونا پر ضد په مبارزه کې یوه لویه هیله مندي رامنځته کوي، خو لا هم ډاډه نه دي چې دا واکسین به وګړو ته بشپړ خوندیتوب ورکړی شي کنه.

دوی ټینګار کوي چې په دې برخه کې لا ډېرو څېړنو او داسې ازموینو ته اړتیا ده چې لا ډېرو خلکو پکې ګډون کړی وي.

د برېټانیا حکومت وار له مخه پلان جوړ کړی چې له دې واکسینه به سل میلیونه خوراکه یا ډوزه اخلي.

دا واکسین چې ChAdOx۱ nCov-۱۹ نوم ورکړل شوی په بې ساري لنډه موده کې جوړ شوی دی. دا په جینیټیکي بڼه له یوه جوړ شوي ویروس رامنځته شوی چې په شمپانزي شادي کې د عام والګي لامل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې لاهم کرونا ویروس په نړۍ کې په چټکۍ سره د ودې په حال کې دی او د میلیاردونو انسانانو ژوند یې له جدي ګواښ سره مخ کړی دی.

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۱۵ میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ٦۱۰ زره او ۸۵۸ تنه مړه شوي او شاوخوا نهه میلیونه کسان ترې بېرته رغېدلي دي.


امریکا لاهم د دغه ویروس د زیاتو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې شاوخوا څلورو میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز ۱۴۳ زره او ۵۲۷ امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي. تر امریکا وروسته برازیل، هند، روسیه او جنوبي افریقا هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

## د کتــاب خبــري

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل


**لومړۍ برخه**
**د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!**
**دویم څپرکی**




**۱۸. په هوښیارۍ ټاکنه وکړئ!**
نو تاسو پرېکړه کړې ده چې خپل د شبکه يي بازارموندنې تجارت پیل کړئ.
مبارک مو شه! اوس له یوې ټاکنې سره مخ شوئ. په زرګونو د بازارموندنې شبکې شته. له کومې یوې سره یو ځای کېږئ او څنګه یې انتخابوئ؟
د بازارموندنې شبکو ته نوي راغلي خلک ډېر وخت اټکلي انتخاب کوي. هر څه چې یې لومړی مخ ته راغلل، ورسره یو ځای کېږي. ښايي لومړۍ کمپنۍ چې تاسو ته یې ستاینه شوې، ښه ټاکنه وي؛ خو دا باید تر معلوماتو او پلټنو وروسته په خورا غور او احتیاط و ټاکئ. دلته موږ ستاسو د راتلونکي په اړه خبرې کوو.
**نو انتخاب څنګه کوئ او کوم معیارونه په نظر کې نیسئ؟**
کله مې چې د بېلابېلو شبکه يي بازارموندنو په اړه پلټنه کوله، ډېر وخت مې دا جمله اورېده:«زموږ کمپنۍ د تاوان ورکولو ښې طرحې لري، ښه ګټه لرلای شي!»
هغوی غوښتل د خپلو شرکتونو د فرصتونو په اړه ما ته خبرې وکړي او د هغو کسانو کیسې به یې راته کولې چې د دوی په شرکت کې یې هره میاشت سلګونه زره ډالره ګټل. له هغو خلکو سره مې لیدلي وو چې د بازارموندنې په شبکو کې هره میاشت سلګونه زره ډالر ګټې، نو د دوی د ګټې د ورتیا په اړه چندان شک نه راته پیدا کېده. که څه هم زه تاسو ته سپارښتنه نه کوم چې د شبکه يي بازارموندنې لپاره لومړنۍ معیار پیسې وګڼئ.
د بازارموندنې له شبکو څخه مې دا خبرې هم ښې ډېرې اورېدلې:«موږ غوره کیفیت لرونکي تولیدات وړاندې کوو. هغه تولیدات چې د خلکو ژوند یې تغییر کړی دی.»
د پیسو تر وړاندیز وروسته دویم وړاندیز د دې شرکتونو لخوا د غوره تولیداتو وړاندې کول وو چې زیات خلک ورسره یوځای کېدل. په دې وړاندیز کې مې هم شک نه لاره. د خپلو تولیداتو په اړه ډېره مبالغه کوي او بیخي زیات تعریف یې کوي؛ خو ډېر یې داسې تولیدات وو چې ما اوس هم استفاده ترې کوله. د دې تولیداتو د کیفیت د لوړوالي یو لامل په خپله شبکه يي بازارموندنه ده.
خو تولیدات هم د دې تجارت ضروري اړخ نه دی.
زه خپله خبره تکراروم:«کله چې د شبکه يي بازارموندنې شرکت انتخابوئ، نو تولیدات یې خورا اړین معیار نه دی.»
زما د ټینګار دلیل دا دی، ډېر خلک داسې ادعا کوي چې ګواکې تولیدات په تجارت کې اړین دي.
دا یاد لرئ چې تاسو پلورونکي نه یئ. تاسو د ځان لپاره کار کوئ او شبکه جوړوئ. کله چې بېلې شبکې ګورئ، نو دا پوښتنه په ذهن کې ولرئ:«ایا دا شرکت به له ما سره مرسته وکړي چې ښه شبکه جوړوونکی شم؟»
د دې تجارت د سپارښتنې لومړنی دلیل دا دی چې د شبکه يي بازارموندنې جوړښت پر تجارتي زده کړو او ځاني پرمختګ ولاړ دی.
د شبکه يي بازارموندنې جوړښت داسې طرحه شوی چې هر څوک په شتمنۍ کې شریکېدای شي. د دې تجارت دروازه د هغو خلکو پر مخ خلاصه ده چې انرژي، کلکه اراده او ټینګار ولري.
دا تجارت له دې سره هېڅ کار نه لري چې تاسو څوک یئ، کوم پوهنتون مو لوستی، ورځنۍ ګټه مو څومره ده، په کوم قوم پورې تړلي یئ، جنسیت مو څه دی، څنګه ښکارئ، څومره مشهوره یا څومره هوښیار یاست. په دې تجارت کې دا مسایل هېڅ اړین نه دي.
د شبکه يي بازارموندنې زیات شرکتونه تر ډېره دې ته ارزښت ورکوي چې تاسو له زده کړې، بدلون او پرمختګ سره څومره لېوالتیا لرئ. او دې ته ګوري چې ایا ستاسو د تجارت پر خپلو پښو درېدو پورې په ښو او ناوړه حالاتو کې خپل ژوند ته ادامه ورکولای شئ که نه.
ایا د بازارموندنې ټولې شبکې همداسې دي؟ نه، کله هم نه. په هرڅه کې ښه، بد او بدرنګه شته او غوره هم پکې شته.
د بازارموندنې ټولې شبکې د زده کړې ملاتړ نه کوي. ځینې یوازې د تولیداتو پر پلورلو ټینګار کوي او ستاسو زده کړې ته چندان توجه نه کوي. دوی غواړي ستاسو ملګري او کورنۍ شبکې ته ننوزي او پلور وکړي. دوی ستاسو پر پرمختګ تمرکز نه کوي او نه ډېر وخت دوام کوي.
خو ښه شرکتونه ستاسو د تجارت زده کړې ته خورا ډېره پاملرنه کوي. دوی اوږدمهاله کار ته ژمن وي او ستا د مهارتونو او وړتیاوو پیاوړي کول ورته اړین وي. که مو داسې شرکت پیدا کړ چې مشران یې ستاسو زده کړې ته پاملرنه کوي او په تجار کېدو کې مرسته درسره کوي، نو دا هغه شرکت دی چې باید کار ورسره پیل کړئ.
ایا څومره پیسې چې تاسو تر لاسه کوئ، مهمې دي؟ هو، بلکل. ایا د تولیداتو کیفیت اړین دی؟ ولې نه، خامخا اړین دی. خو ستاسو لپاره ما ته تر پیسو او تولیداتو دا اړین دي چې ایا شرکت ستاسو زده کړې ته پاملرنه کوي، یا په تجار کېدو کې مرسته درسره کوي، که نه. له کومې شبکې سره چې ته کار پیلوې، دا یې هغه اړینه ځانګړنه ده. ربښتیا هم باید د بازار موندنې شبکه د تجارت زده کولو ښوونځی وي. **دوام لري...**

# ویلیم جیمز ډورانټ

محمد حنیف معاذ



ویلیم جیمز ډورانټ د ۱۸۸۵ز کال د نومبر په ۵مه د امریکا د ماساچوسټس ایالات په نارت آډمز سیمه کې دنیا ته سترګې وغړولې. د ۱۹۸۱ز کال د نومبر په ۷مه د ۹٦ کالو په عمر یې د امریکا په لاس آنجلس ښار کې له دنیا سترګې پټې کړې. هغه خپلې لوړې زده کړې د فلسفې، بیولوژي، ښوونې او روزنې په برخه کې په مختلفو پوهنتونو کې سر ته رسولې وې. په ۱۹۱۷ز کال د کولمبیا له پوهنتونه د فلسفې په برخه کې خپله دوکتورا واخیسته، چې د یو کال لپاره بیا همالته د کولمبیا په پوهنتون کې د فلسفې استاد هم شو. ډورانټ له وړکتوبه یو زیارکښ انسان و، د هغه پلار د ده په باره کې ویلي دي: «زه به لا ویده وم چې دی به خپل کار ته تللی و او د شپې به هم موږ ټول ویده شوي وو، چې دی به بېرته کور ته راستون شو. هغه همیشه زیارکښ و، د هغه سستي او ټنبلي مې نه ده لیدلې.
ډورانټ د تحصیل په جریان کې غوښتل کشیش شي، خو کله چې یې د سپینوزا کتاب (اخلاق) ولوست، له دې کاره لاس په سر شو او ویې ویل: نشم کولای چې د دیني او بشر دوستانه رایو تړاو له سوسیالېزم سره وساتم. کله چې په زده کړو او تدریس مشغول و، نو له خپلې یوې تکړه شاګردې (آریل) سره یې واده وکړ او خپل مشهور کتاب (د تمدن تاریخ) یې د خپلې میرمنې په کمک ولیکه.
ډورانټ چې کله د سیټون هال په پوهنتونونو کې د لاتیني ژبې او فلسفې په زده کړو بوخت و، تر څنګ یې په آزاده توګه تاریخ هم لوست. له تاریخ سره مینې هغه تاریخ ته لا جذب کړ. تاریخ یې د بشري تمدن له پیله د ده تر وخته پورې مطالعه کړ، خو د تاریخ په څانګه کې یې دوکتورا ونه کړه؛ سره له دې چې د خپل وخت تر ټولو لوی تاریخ پېژندونکی هم شو.
ډورانټ د نړۍ د لویو فیلسوفانو د ژوند د مطالعې په چوکاټ کې د یونان له مخکنیو حکماوو څخه تر معاصرې دورې پورې، هغه تاریخي پېښې او موجودات چې د فیلسوفانو له ژوند سره په یو وخت کې واقع شوي وو، مطالعه کړل. هغه په دې عقیده و چې فیلسوفان له دوو لارو پر تاریخ باندې اثر اچوي: اول: هغوی مخکیني او اوسني واقعات څارلي او یو نوی نړۍ لید یې بیان کړی دی. دویم: همدا نړۍ لید په راتلونکو پېښو باندې تاثیر کوونکی و او له هغه وروسته وخت ته یې تغیر ورکړی دی. همدا وجه وه چې د خپل یوولس ټوکه کتاب (د تمدن تاریخ) دوه ټوکه یې د دوو لویو فیلسوفانو په نوم ولیکه: نهم ټوک یې د (د ولټېر زمانه) په نوم معرفي کړی دی او په هغه کې یې د اروپا ټولې پېښې د ولټېر د ژوند په تګلوري کې پلټلې دي. لسم ټوک یې د (روسو او د هغه د انقلاب) نومولی دی؛ د فرانسې پر انقلاب د جان جاک روسو تاثیر یې هم ارزولی دی.
ډورانټ په لومړي سر کې سره له دې چې په نیویارک کې د لیبرټمپل د پوهنتون مدیر و او د کالیفورنیا د پوهنتون د فلسفې په څانګه کې استاد هم و، د (د فلسفې تاریخ) په نوم یې کتاب ولیکه. وروسته یې په ۱۹۲۷ز کال کې دا پرېکړه وکړه چې د نړۍ د تمدن تاریخ باید تدوین کړي. هغه د نوموړي کتاب د هر ټوک د لیکلو لپاره د هغې موضوع ته په کتو په ځانګړي وخت کې هغه سیمې ته تلو او هلته به یې هر څه تر نظر تېرول. ویل ډورانټ له خپلې میرمنې آریل ډورانټ سره په ۱۹۳۰ز کال کې د ټولې نړۍ سفر کولو ته روان شو. د ډورانټ دې سفرونو د ده د کتاب د یو بل ټوک له چاپ سره ډېره مرسته وکړه. دا کتاب (د ختیځ خاوره د تمدن زانګو) نومېږي. دا یې د مشهور کتاب (د تمدن تاریخ) لومړی ټوک و. تر هغه وروسته یې بیا ډېر سفرونه اروپا، منځنې ختیځ او لرې ختیځ ته کړي دي.
ډورانټ له نورو تاریخ لیکونکو په توپیر، تمدن جوړوونکو عواملو ته د تاریخ په اوږدو کې توجه کړې ده. خپله وایي، «تمدن یو داسې سیند دی چې دوه ساحله لري». ډورانټ پر دې باور دی چې ډېری تاریخ لیکونکي یوازې خپله سیند ته متوجه وي او دا سیند د هغو له لاسه چې وژل کوي، غلاوې کوي او غوغا جوړوي له وینو ډک شوی دی. ده خپل ټول فرهنګي کوښښ د یوې لویې مجموعې «د تمدن تاریخ» په لیکلو کې هغو واقعاتو ته وقف کړی چې د سیند په ساحلونو کې واقع شوي او کېږي. هغه ځای چې د ده په خبره هلته بې نومه خلک کور جوړوي، مینه کوي، ماشوم را لویوي، سندرې وایي، شعرونه زمزمه کوي او مجسمې جوړوي. له همدې کبله د هغه په نایابه کتاب (د تمدن تاریخ) کې د ساده کرښو له لیکو نیولې تر علمي، تأریخي او حتی د تاریخ د فلسفې تر اړخونو پورې ټول لیدل کېږي.
ډورانټ د خپل کتاب (د تمدن تاریخ) په پیل کې له لرغوني ختیځه شروع کېږي او د ناپلیون تر وخته رسیږي. یوځای لیکي: «غواړم چې د تمدن په اړه تاریخ ولیکم او په ډېر کم ځای کې د بشر نبوغ او د لویو خلکو کارنامې چې د بشر د فرهنګي میراث په اړه دي، بیان کړم.» ویل ډورانټ په اصل کې تاریخ ته د یو ساده علم په سترګه نه ګوري، بلکې هغه تاریخ د تاریخي واقعاتو او په هغوی کې له تاثیر لرونکو عواملو سره یو ځای په نظر کې نیسي. هغه په خپل بل کتاب (د تاریخ درسونه) کې چې د خپل عمر په پای کې یې لیکلی دی، په ټینګار وایي: «د ملتونو تاریخ باید له دې وروسته له نویو علمي پدیدو سره، لکه بیولوژي، نژاد، اخلاق، اقتصاد، فلسفه، د حکومت طرز، د پرمختګ مانا، جغرافیه او نورو هغو عناصرو سره چې د بشریت د تاریخ په جوړښت کې مؤثر دي، ولیکل شي.»
ډورانټ وایي چې تاریخ د ځمکې پیژندنې تابع دی او د خپلې دعوې د توجیه کولو لپاره وایي: «هره ورځ په یوه څنډه کې سمندر په وچه او یا وچه په سمندر پرمختګ کوي، ښارونه تر اوبو لاندې کېږي او ورکیږي او د کلیساوو جرس د غم زنګونه وهي، اقلیم د انسان په حالاتو سخت مسلط دی. همدارنګه مونټسکیو هم په دې تأکید لري چې جغرافیه د تاریخ د زیږېدو ځای دی، د هغه مور او را لویوونکې ده، داسې کور یې دی چې هلته تاریخ منظمیږي. اخلاقي قوانین هم د تاریخ تابع دي. هغوی باید خامخا له تاریخي او محیطي شرایطو سره جوړجاړی ولري. که چېرې د بشر اقتصادي تاریخ په درېو مرحلو: ښکار، کښت کول او صنعت وویشو، په اسانې سره لیدلای شو چې د هرې مرحلې اخلاقي قانون په وروستنۍ مرحله کې تغیر کړی دی، د ښکار په مرحله کې وحشي خوی لرو چې باید هره شېبه په وژلو پسې یو، چې دا د دې دورې اخلاقي ځانګړنه ده په نورو دورو کې نشته.»
د ډورانټ په نظر، اقتصاد او د ژوند د تېرولو څرنګوالی، د تاریخي تحولاتو په اوږدو کې مستقیم رول لري او په نړیوالو اړیکو کې په معمولې توګه «د اقتصادي ګټو ټکر» جنګ او بحران زیږوي. جنګونه د ملتونو د تاریخ مسیر بدلوي. هغه جنګ د تاریخ له همیشنیو عناصرو څخه یو عنصر ګڼي. د بشر د غلامۍ له وخته آن د تمدن او بیا د ډیموکراسۍ تر وخته په ټولو وختونو کې جنګ په یو ډول نه یو ډول سره موجود و او د بشر له (۳۴۲۱) کلونو متمدن تاریخ، یوازې (۲٦۸) کاله له جنګه خالي تېر شوي، نور ټول په جنګ کې تېر شوي دي. ویل ډورانټ د دې لپاره چې وایي: بشر د خپل تاریخ په اوږدو کې په دې نه دی توانیدلی چې له جنګه پرهیز وکړي، د هراکلیټوس «یوناني فیلسوف» خبرې ته اشاره کوي چې وایي: «جنګ یا رقابت، د هر څه پلار دی.»
د ډورانټ ۱۱ ټوکه کتاب «د تمدن تاریخ»: (The Story of Civilization) چې هر ټوک یې بېل بېل نوم لري:
۱: د ختیځ خاوره د تمدن زانګو ۲: لرغونی یونان ۳: قیصر او مسیح ۴: د ایمان زمانه ۵: رنسانس ٦: د دین اصلاح ۷: د عقل د زمانې پیل ۸: د لویس زمانه ۹: د ولټېر زمانه ۱۰: روسو او د هغه انقلاب ۱۱: د ناپلیون زمانه.
ویل ډورانټ د ۹۰ کلن و چې نور یې کار پرېښود؛ سره له دې چې د تاریخ لیکلو او تدوین سره یې مینه لرله. په همدې وخت کې یې د شرق تاریخ د کتاب لیکلو ته متې و نغاړلې. ویل به یې: «روح مې غواړي، خو بدن مې نشي کولی.»
د هغه یوولس ټوکه کتاب د تمدن تاریخ د نړۍ له زیاتو پلورل شوو کتابونو و چې اوس هم همداسې دی. د هغه د کتاب لسم ټوک: روسو او د هغه انقلاب په ۱۹٦۸ ز کال کې د (پولیټرز) ادبي جایزه وګټله.
د تمدن تاریخ کتاب چې د نړۍ په سطحه یو له ډېرو با ارزښته کتابونو دی، متأسفانه تر اوسه پښتو ژبې ته نه دی ژباړل شوی، چې د دې کتاب ژباړل پښتو ته یو ډېر مهم او ارزښتمن کار او اشد ضرورت دی، خو د دې کتاب ژباړل سخت کار هم دی دا ځکه چې دا د یو سړي کار نه دی؛ بلکې د دې کتاب د ژباړې لپاره باید یو ګروپ جوړ شي.
د ډورانټ یو بل مهم کتاب هم شته. دا کتاب (د ژوند په مانا پسې) نومېږي. ډورانټ په دې کتاب کې د نړۍ ۱۵۰ نوموتو او خپلو همعصره علماوو ته لیکونه استولي دي او له دوی یې د ژوند د مانا په اړه پوښتنې کړې. ډورانټ د همدې پوهانو، عالمانو، سیاستوالو، شاعرانو او ډېرو نورو کسانو لیکنې ځوابونه سره یو ځای کړي دي، بیا یې خپل تحلیل ورسره مل کړی او یاد کتاب یې ترې جوړ کړی دی. د ډورانټ دا کتاب هم خورا مهم دی او د بشري تاریخ او فرهنګ په برخه کې ځانګړی ارزښت لري.
ویل ډورانټ خپل څېړنیز کار له فلسفې را پیل او په تاریخ یې پای ته ورساوه. هینري ټوماس، د (د فسلفې لویان) په کتاب کې د ویل ډورانټ په اړه لیکي: «په فلسفه کې د هغه تر ټولو لوی کار دا و چې تیت، خواره او سخت نظرونه او اندیښنې به یې په ډېره ساده او پوهیدونکې ژبه را اړول. هغه فلسفه له پریښودل شوو او له لاسه وتلو لارو را وایستله. د خاصو او عامو خلکو په لاس یې ورکړه او په خلکو یې ومنله.»
د ډورانټ پنځونو ته په کتو ویلای شو چې د هغه تاریخ د ټولنپیژندنې، فلسفې او تاریخ مجموعه ده. که په بل عبارت ووایو، د هغه اثر د انساني علومو خزانه ده او ویلای شو چې د ابن خلدون له مرګ ٦۰۰ کاله وروسته، ویل ډورانټ دویم ځل تاریخ د ابن خلدون په سبک لیکلی دی. ځکه ډورانټ په ټولو مراحلو کې د ټولنپیژندنې ټولې مهمې نکتې لکه ابن خلدون ښې مراعات کړې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٧ |
| € | ٨٦،٢٠ |
| Rp. | ٤٥٨ |
| ₹ | ١٠٥٠ |
| ¥ | ١٠،٥٠ |
| £ | ٩٤،٥٠ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# بريا که ناراحتي؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

هر وخت د يوې موخې او هغه ته د رسېدو تر منځ ستونزې وي. هغه پوښتنه چې په دې اړه يې بايد له ځانه وپوښتئ دا ده چې «ايا دا ستونزه او نيمګړتيا مو راحت او که ناراحته کوي؟» ډېرې ورځې به مو سختې تېرېږي، که هره ورځ د بريالي کېدو او خوښ اوسېدو پر ځای ناراحته وی، د موخو لاس ته راوړل ستاسې لپاره ډېر سخت دي.

ست ګارين وايي: «هرڅوک بايد په هغه کار کې چې کوي يې، تر ټولو ښه وي.» د هغه په باور، د بريا يوازينۍ لار همدا ده. د تر ټولو ښه اوسېدو لپاره بايد له سختو لارو تېر شئ. کله چې له حد زيات ژر تسليمېږو، هماغه دي چې ماتې خورو. هغه وخت بريالي کېږو چې په خپل کار کې تر ټولو ښه وو.

**له وال سټريټ ورځپاڼې د افريقا د پلي تګ تر لارو**

هرکله چې د يو چا د بريالي کېدو خبره اورم، ډېر خوشاله کېږم. له دې ډلې کسانو يو هم ژان کلين نوو ګراتس دی. هغه په وال سټريټ مجله کې له ښه کار او ښې بريا لاس ته راوړل لاس واخيست او د هغه کار په لټه کې شو چې هغه ته يې له دې زياته خوشالي ورکوله.

نوو ګراتس د سوداګرۍ او تجارت په اړه ښه وړتيا او ښه استعداد درلود، هغه چې د اوو اولادونو تر ټولو مشر زوی دی، هغه د کالج له لوستو وروسته په چېس مهتن بانک کې په نړيواله بانکدارۍ کې د ځان لپاره ښه دنده پيدا کړه. کولای شو ووايو چې مالي او تجارتي مسايل د دې کورنۍ اساس و. هغه په خپلو دريو وروڼو او خويندو په مالي مسايلو کې زده کړې وکړې او اوس په فوق العاده ښو شرايطو کې ژوند کوي.

ژانکلن باوري دی چې هنري فورد د نړۍ په سوداګرۍ کې يو وتلی نوم دی، ځکه هغه وشوای کړی چې د سوداګرۍ او مشتريانو تر منځ اړيکه وپالي. هغه وشوای کولای چې خپلو کارکوونکو ته مالي کاپي حقوق ورکړي او بازار ته داسې جامې وړاندې کړي چې مشتريان يې د پلورلو توان ولري.

خو په مالي برخه کې په ښه استعداد سربېره، ژانکلن خلکو ته پام کاوه او هغه کسان چې په ښه موقف يا حالت کې به نه وو، له هغوی سره به يې مرسته کوله. د هغه د خوښې وړ له رهبرانو يو هم هندي رهبر مهاتما ګاندي دی، ځکه د ژانکلن په باور، هغه وشوای کړای چې د انسانانو ارزښت، شان او منزلت سره برابر کړي. هغه باوري دی چې ګاندي له خلکو سره د اړيکو په ساتلو او پاللو کې ډېر تکړه و او ويې شوای کولای چې دنيا ته ټکان ورکړي.

نوو ګراتس په چېس منهتن بانک کې درې کاله همداسې په ګوښه کې تېر کړل او په ټول دغه وخت کې يې ۴۰ هېوادونو ته سفر وکړ. خو هغه وخت چې په برازيل کې و، په دغه هېواد کې د بېکارۍ لوړې کچې پر هغه زيات اغېز وکړ. ډېر داسې کسان وينم چې په لرې پرتو او پس پاتې کليو او بانډو کې ژوند کوي او پر بانکي حسابونو له شته باوره يې استفاده نه شي کولای. په داسې حال کې چې په ميليونونو ډالر يې شتمنو خلکو ته ښلي او دا ورته په واضحه توګه روښانه کوي، چې په دې اړه د خلکو ذهني تصوير نيمګړتيا لري. ژان کلن له خپل کاره لاس واخيست او په دې اړه يې خپل پلان ۱۸۰ درجې تغير کړ. هغه غوښتل چې د نړۍ تر ټولو له غريبو خلکو سره مرسته وکړي.

نوو ګراتس وايي، په ياد مې دي چې د يوې ځوانې او هيله لرونکې ښځې په صفت عاج ساحل ته لاړم، هغه وايي: «نوې مې له وال سټريټ سره دنده پرې اېښې وه، ويښتان مې د مارګارت په څېر لنډ کړي وو، تقريباً ټوله دارايي مې پرته له يو څو کتابونو، شعرونو، څو جاړو جامو او يو ګيتار څخه نور څه نه وو. غوښتل مې چې دنيا ته نجات ورکړم او فکر ته مې راغله چې بايد لومړی يې له افريقا پيل کړم. البته لازمه به نه وي چې ووايو، هغه ډېره اخلاصمنه وه چې له خلکو سره مينه او تجارت به يې سره ګډول. هغه خبره شوه چې په رواندا کې ۲۰ ښځې يوه نانوايي اداره کوي، دغو ښځو له کليسا سره د مرستې په پار دغه کار کاوه او دې کار يې ضرر هم درلود. هغې پرېکړه وکړه چې له دغو ښځو سره به د دوی د کار په لا ښه والي کې مرسته کوي او بالاخره يې دا کار هم وکړ. د دغو ښځو ګټه وټه چې د خيريه بنسټونو په مرستې سربېره ۵۰ سنټه وه، د مخ پر ودې هيوادونو د وګړو د ګټې وټې درې برابره شوه.

نوو ګراتس وايي، کله يې چې په وال سټريټ کې کار کاوه، دې پايلې ته ورسېده چې پر خپله پانګه سوداګري يا تجارت کول، په ژوند کې د بدلون راوستو لپاره تر ټولو اغېزمنه لار ده. کله يې چې تجربه زياته شوه، ذهني لرليد يې پياوړی شو، هغې غوښتل چې د سوداګرۍ او تجارت په برخه کې خپله پياوړې وړتيا له غريبو او اړمنو خلکو سره د مرستې په پار، له خيريه بنسټ سره يو ځای کړي.

نوو ګراتس استنفورډ پوهنتون ته لاړه او له هغه ځايه يې د بازار موندنې په برخه کې لېسانس واخيست. وروسته يې په ۲۰۰۱ ز کال کې د اکومن بنسټ کېښود، هغه د همدې بنسټ په ويب پاڼه کې ليکلي: «اکومن هغه غير انتفاعي سازمان دی چې په نړيواله سطحه د فقر د له منځه وړلو لپاره کارفرمايانو ته حللارې وړاندې کوي. موږ غواړو دا ثابته کړو چې د خلکو کوچنۍ مرستې هم کولای شي له غريبو خلکو سره مرستې وکړي. زموږ پانګونه جامو او د هغو ضروري توکو پلورلو ته چې خلک يې د اخيستو توانايي لري، لکه د خوراک او څښاک توکي ځانګړې شوې ده.»

نوو ګراتس پوه شوی و چې يوازې خيريه بنسټونه په يوازې ځان نه شي کولای چې د اړمنو خلکو ستونزې حل کړي، ځکه هغو اړمنو خلکو ته اوږدمهاله حللارې نه شي وړاندې کولای. تجارت او سوداګري په يوازې ځان نه شي کولای چې له اړمنو او غريبو خلکو سره مرسته وکړي. ځکه هغوی د ژر ګټې لاس ته راوړلو په هڅه کې دي او دا وخت غريبانو ته توجه نه کوي.

نوو ګراتس وايي: «پر ورځني بازار هغه متکي لارې چارې چې سوداګرۍ ته زمينه برابروي، څو د خيريه بنسټونو د پيسو په خلاصېدو سره خپل پرمختګ ته ادامه ورکړي، دا هرڅه د دې لامل کېږي چې غريب او اړمن خلک په اوږدمهال کې خپل مسايل حل کړي. زموږ هدف دا دی چې د غريبو او اړمنو خلکو په اړه د دنيا د خلکو نظر بدل کړو او هغه خيريه بنسټونه چې له دوی سره مرستې کوي، نور په بې پروايۍ کې ونه وينو، بلکې د هغو انسانانو په څېر يې و ارزوو چې د خپل برخليک د کنټرول وړتيا لري.»

په مخ پر وده هېوادونو کې خيريه بنسټونه ډېر لږ له خلکو سره مرستې کوي. د بېلګې په ډول، اړمنو ښځو ته ۵۰ ډالر ورکوي څو پرې ځان ته د خياطۍ ماشين واخلي. خو اوکومن بنسټ بيا د هغوی برعکس له بلې متفاوتې لارې استفاده کوي. دغه سازمان له ٦٠٠٠٠٠ تر يو ميليون ډالرو مصر، هند، کينيا، پاکستان او تانزانيا په څېر هېوادونو کې پانګونه کوي، چې د کار پيدا کېدو تر څنګ د دغو هېوادونو خلکو ته جامې او نور ضروري توکي وړاندې کوي. تر اوسه اوکومن بنسټ تقريباً ۲۷ ميليونه ډالره په ۱۸ کلونو کې په افريقا او اسيا کې په بېلابېلو تجارتي برخو کې سرمايه ګزاري کړې دي. دا پانګونه په بېلابېلو برخو کې شوې ده، چې کولای شو له هغې برخې په ممبيي او تانزانيا کې له طبي خدماتو نيولې له ملاريا ناروغۍ سره تر مبارزې، په پاکستان کې د ارزان بيه اوسېدو د خونو تر جوړولو او په هند کې د کروندو د خړوبولو لپاره د کوچنيو څاګانو تر کيندلو پورې اشاره وکړو.

کله چې نوو ګراتس په افريقا کې کار شروع کړ، داسې فکر يې کاوه چې ډېر ژر کولای شي نړۍ ته بدلون ورکړي. اوس هغه تر ۲۵ کلنې تجربې وروسته يوه ساده مېرمن نه ده، هغه اوس په ډېرې علاقې سره کار کوي. دا تر لمر روښانه ده چې هغه له خپل دې کاره ډېره خوشاله ده.

## <u>د بشري حقونو کمېسيون:</u> حکومت دې ژر تر ژره پر کونړ د پاکستان د توغنديزو بريدونو مخه ونيسي

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د افغانستان له حکومته غوښتي چې پر کونړ ولايت د پاکستان د توغنديزو بريدونو مخه ونيسي، د هېوادوالو دفاع وکړي، له مناسبو لارو دې ستونزې ته جدي رسېدنه وکړي.

د ياد کمېسيون له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د امنيتي سرچينو، روغتيايي مرکزونو، قربانيانو، عيني شاهدانو او په روغتونونو کې له زيانمنو او ټپيانو سره د مرکو او د معتبرو ملي او نړيوالو رسنيو د معلوماتو پر بنسټ، د روان ۱۳۹۹ کال د چنګاښ په۲۵مه له غرمې وروسته شاوخوا درې بجې، پاکستاني ځواکونو د کونړ پر سرکانو ولسوالۍ او د مرکز اسعداباد ښار پر ځينو برخو د توپ (هاوان) ۱۲ مرمۍ توغولې دي.

سرچينې زياته کړې، په دغو بريدونو کې ۱۵ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې چې د يوې ښځې او يوه ماشوم په ګډون اووه کسان وژل شوي او د شپږو ماشومانو او دوو سړيو په ګډون اته کسان ټپيان شوي دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، په وروستيو کلونو کې د کونړ ځينې سيمې د پاکستاني ځواکونو د بريدونو موخه ګرځېدلې او امنيتي ځواکونو او ملکي خلکو ته يې مرګ ژوبله اړولېده.

سرچينې زياته کړې، د کمېسيون راپورونه ښيي چې تېر کال اته ملکيان او د روان ۲۰۲۰ ز کال په لومړيو شپږو مياشتو کې نهه ملکيان د پاکستاني ځواکونو د توغنديو له امله د کونړ اړوند سيمو کې قرباني شوي دي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون په کونړ ولايت کې د هېوادوالو پر مرګ ژوبله او ملکي خلکو ته د زيان پر اوښتو خواشينی دی، کمېسيون د هېوادوالو د سر او مال ساتنه د دولت دنده بولي او پر اړوندو بنسټونو غږ کوي چې د پاکستاني ځواکونو د توغنديو ويشتلو مخه ونيسي، د هېوادوالو دفاع وکړي، له مناسبو لارو دې ستونزې ته جدي رسېدنه وکړي او د يادو سيمو د امنيت په ټينګولو سره دې د هېوادوالو د سر او مال ساتنه وکړي.

ياد کمېسيون په هره پلمه ملکي خلکو ته ځاني او مالي زيان اړول په کلکه غندي او پر ملکي سيمو د درنو وسلو ړندې ډزې چې د ملکي خلکو سر او مال ته پکې زيان اوړي او هغوی د خپلو کليو او کورونو پرېښودو ته اړ ايستل کېږي، د بشري حقونو د اصولو خلاف ګڼي او له مسوولينو يې په کلکه د مخنيوي غوښتنه کوي.

## <u>راپورونه:</u> په ترکيه کې د يوې بېړۍ د ډوبېدو په پېښه کې لسګونه افغانان مړه شوي دي

د راپورونو له مخې، په ترکيه کې د يوې بېړۍ د ډوبېدو په پېښه کې لسګونه افغانان مړه شوي دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت وايي، چې دغه بېړۍ د ترکيې په وان ښار په يوه جهيل کې ډوبه شوې چې د ۵۸ مسافرو مړي پکې موندل شوي او له دې ډلې يې ۲۴ تنهاافغانان دي.

د بهرنيو چارو وزارت وياند ګران هېواد تېره ورځ رسنيو ته په لېږلي ويډيويي پيغام کې ويلي چې د دغو مړيو د انتقالولو په برخه کې هڅې روانې دي.

نوموړي زياته کړې: «په ترکيه کې د افغانستان جمهوري دولت کار کوي چې دا مړي کابل ته راانتقال کړي او د دوی کورنيو ته يې وسپاري او پر خپلو هېوادوالو غږ کوو چې له غير قانوني سفرونو ډډه وکړي او خپل سرنوشت او ژوند د قاچاق وړونکو په لاس ورنه کړي چې کولای شي دوی له جدي خطر سره مخامخ کړي.»

د رويټرز خبري اژانس د راپور له مخې، دا بېړۍ د جون په ۲۷مه نېټه ډوبه شوې او ويل کېږي شاو خوا ٦٠ کسان پکې سپاره وو.

په ورته وخت کې تر دې دمه په دقيقه توګه نه ده څرګنده چې په بېړۍ کې ټول څومره افغانان وو، خو چارواکي وايي چې تر اوسه د ۲۴ افغانانو هويت تاييد شوی دی.

د راپورونو له مخې، په دې بېړۍ کې سپاره ټول کسان پناه غوښتونکي وو. چې اروپا ته يې د تګ هڅه کوله. د يادونې ده چې غير قانوني پناه غوښتونکي عموماً تر ترکيه تېرېږي او اروپايي هېوادونو ته د اوښتو هڅه کوي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي

**مرستيال:** شفيق اميرزی

**ایډیټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي

**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري

**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان

**چاپخونه:** وايګل چاپ ٠٢٠٢٥١٢٦٢٦
٠٧٨٢٩٨٩٦٩٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۳۱مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۱مه | ۵۷۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۷ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۹ | لمر ختل ۰٤:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:٤۵

## نړۍ




## ټرمپ: د امریکا د ولسمشرۍ راتلونکي ټاکنې نه بایلم



د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر ډونالډ په عام محضر کې له دې ډډه کړې چې د سپینې ماڼۍ لپاره د را روانو ټاکنو نتیجه به مني.
ټرمپ له فاکس نیوز ټلوېزیون سره په مرکه کې په ښکاره توګه ونه ویل چې دی به د ولسمشرۍ د را روانو ټاکنو نتیجه مني. ټرمپ زیاته کړې چې دی ډېر ساده دا نشي ویلی چې نتیجه مني او دا هم نشي ویلی چې نه یې مني.
هغه ویلي: «تر هر څه مخکې، زه یې نه بایلم او دا ځکه چې دا جعلي سروې ګانې دي، په ۲۰۱٦ ز کال کې هم هغه جعلي وې او اوس خو بېخي جعلي دي. د ۲۰۱٦ ز کال سروې ګانې خو له دې لاخرابې وې.»
ټرمپ ټینګار کړی چې هغه سروې ګانې چې په وروستیو کې ترسره شوې او ښيي چې د ده محبوبیت کم شوی او جوبایډن ترې مخکې دی، ناسمې دي. د ټرمپ د دغې مرکې په غبرګون کې د جوبایډن د کمپاین مسوولینو ویلي چې د امریکا خلک به د دغو انتخاباتو چې په پام کې ده د نومبرپه دریمه وشي، برخلیک وټاکي. دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱٦ ز کال چې د ټرمپ او هېلري کلېنټن ترمنځ سیالي وروستۍ مرحلې ته داخله شوه هم نوموړي دا ژمنه نه وه کړې چې که ټاکنې ډیموکراتان وګټي، دی به یې نتیجه ومني.
په دې وروستیو کې د ټرمپ محبوبیت د کرونا ویروس پر وړاندې د هغه د اجرااتو او په مې میاشت کې په میناپولیس کې د جورج فلویډ د مړینې پر سر د نژادي بې عبدالتۍ پر وړاندې د پراخو اعتراضونو په نتیجه کې کم شوی دی.

## راپورونه: د سعودي پاچا سلمان بن عبدالعزیز د ناوړه روغتیایي وضعیت له کبله روغتون ته لېږدول شوی

د راپورونو له مخې، د سعودي عربستان پاچا سلمان بن عبدالعزیز د تریخي د التهاب له کبله د پلازمینې ریاض روغتون ته لېږدول شوی دی.
د سعودي عربستان دولتي خبري اژانس په دې اړه د دغه هېواد د سلطنتي ماڼۍ اعلامیه خپره کړې ده. په اعلامیه کې لږ معلومات ورکړل شوي چې ۸۴ کلن عبدالعزیز شاه فیصل روغتون ته لېږدول شوی دی. د عبدالعزیز د روغتیایي وضعیت په اړه ډېر کم خبرونه تر سترګو کېږي.
دی له ۲۰۱۵ میلادي کال راهیسې د سعودي عربستان واک په لاس کې لري. په ورته وخت کې ټاکل شوي وه سعودي عربستان ته د عراق د لومړي وزیر مصطفی کاظمي سفر هم پیل شي، خو د سعودي د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې دا سفر ځنډول شوی دی.
د سعودي حکومتي رسنۍ وايي، د دغه هېواد پاچا سلمان بن عبدالعزیز د ناروغۍ له امله روغتون کې بستر شوی دی. د دې رپوټونو له مخې، ملک سلمان د صفرا کڅوړې له پړسوب رنځېږي او د ریاض ښار یوه روغتون کې تر درملنې لاندې دی.
نوموړی چې له ۲۰۱۵ کال راهیسې پاچا شوی، د روغتیا په هکله یې تل ګومانونه کېږي او ویل کېږي چې یو ځل یې مغزي سکته کړې وه او د چپ لاس حرکت یې ور سره محدود شوی دی.

## منابع: اختلاف‌ها میان غنی و عبدالله در باره وزارت دولت در امور صلح افزایش یافته است



با گذشت دو ماه از امضای توافق سیاسی اکنون بار دیگر از آغاز تنش‌ها میان غنی و عبدالله خبر رسیده است. منابع آگاه به طلوع نیوز گفته اند که اختلاف‌ها میان غنی و عبدالله در باره وزارت دولت در امور صلح سبب شده اند تا ایجاد شورای عالی مصالحه با تاخیر روبه‌رو گردد.
به گفته این منابع عبدالله عبدالله، مصطفی مستور را نامزد وزارت دولت در امور صلح معرفی کرده است، اما رئیس جمهور غنی مخالفت کرده است.
کسانی نزدیک به عبدالله عبدالله می گویند که صلاح دیده شده است تا کار شورای عالی مصالحه و کابینه تازه هم زمان آغاز شود.
فضل احمد معنوی، از افراد نزدیک به عبدالله عبدالله، گفت: «تعهداتی صورت گرفت بود، با حضور شخصیت‌های کلان افغانستان و همه انتظار داشتند که بر این تعهدات عمل شود، هنوز امیداریم که کدام تعهد شکنی صورت نگیرد مطابق بر این تعهد نامه و توافقاتی که صورت گرفته به ضمانت همین شخصیت‌های بزرگ این عملی شود و اگر قرار باشد که یک طرف تعهد شکنی کند، میتواند باعث به میان آمدن مشکلات شود.»
چهره‌های نزدیک به عبدالله عبدالله می‌گویند که اختلاف‌های عبدالله عبدالله با اشرف غنی در باره سهم آنان در ولایت‌ها و نهادهای مستقل نیز حل نشده اند.
آقای معنوی افزود: «بعضی ولایات که قرار بود از جانب سپیدار معرفی شوند، اما بعد از رسانه‌ها شنیده شده که کسی از جانب ارگ معرفی شده و این میتواند که بحث توافق نامه را با مشکلاتی روبه رو بسازد.»
از سوی دیگر ریاست جهوری از رای‌زنی ها برای اعلام کار شورای عالی مصالحه سخن می‌زند.


## ژوند

## نور د ځیرک موبایل د ورکېدو اندېښنه مه کوئ



د ځیرک ټلیفونونو په اړه یوه لویه اندېښنه دا ده چې د ورکېدو او یا هم غلا کېدو چانس یې زیات دی. خو اوس مو دا اندېښنه په لرې کېدو ده، ځکه داسې روباټیکه ګوته جوړه شوې چې له تاسې سره به مرسته کوي چې ټلیفون مو ورک نه شي. دا ګوته لکه د یوه ملګري په څېر ستاسې لاس رانغاړي او نه پرېږدي چې ټلیفون مو له لاسه ولوېږي او یا یې هم څوک کش کړي. دا ګوته د ټلیفون لپاره د یوه پوښ په څېر جوړه شوې او ژر به بازار ته وړاندې شي. دې روباټیکې او د ټلیفون ساتونکې روباټې ګوتې ته د موبي لمب نوم ورکړل شوی دی.

## شتمن کېدل په زده کړو پورې اړه نه لري



ډېری خلک په دې اند دي چې د شتمن کېدو لپاره کېدای شي لوړو زده کړو ته اړتیا وي، خو زده کړې سړی نه شي شتمن کولی. ان کېدای شي چې ډېر کله خپله په لوړو زده کړو ډېر وخت تېرول مو له شتمن کېدو پاتې کړي، ځکه په پوهنتونونو کې په دې اړه زده کړې نه ورکول کېږي چې تاسو څه ډول شتمن شئ. «کېدای شي همدا لامل وي چې د شتمن پلار او نېستمن پلار لیکوال کیوساکي لیکي، چې ممتاز زده کوونکي د کمزورو لپاره کار کوي او متوسط یې بیا د دولت لپاره کار کوي.» د تحصیلي اسنادو نه درلودل نه شو کولی چې د شتمن کېدو په مخ کې خنډ وبولو. که د همدې اوسنیو شرایطو په اړه فکر وکړئ، په ټولنه کې ډېری وزګار کسان د ماسټرۍ او دوکتورا درلودونکي دي. دوی نه یوازې دا چې شتمن نه دي، بلکې هېڅ عواید هم نه لري. د دوی د شتمن کېدو په مخ کې یوازینی خنډ همدا دی چې دوی له خپلو تحصیلي اسنادو ډېره تمه کوي.

ماسټر ډبټ کارټ
د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

